**بسم الله الرحمن الرحیم**

(ژباړه)

## څوک چې خلک په عذاب کړي، د الله تعالی له عذاب سره به مخ شي!

له عروه څخه روایت دی چې هشـــام بن حکیم په داســـې حال کې د حمص واکمن عیاض بن غنم ولید، چې خلک د جزیې اخیستلو له امله ګرم لمر ته شکنجه کوي. هشام بن حکیم وویل: اې عیاضه! دا ته څه کوې؟ ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي، چې فرمایل یې:

«**إِنَّ اللَّهَ يُعَذِّبُ الَّذِينَ يُعَذِّبُونَ النَّاسَ فِي الدُّنْيَا**» (صحیح ابن حبان: 5703)

***ژباړه:*** *الله (سبحانه وتعالی) به هغو کسانو ته په اخرت کې عذاب ورکړي، چې په دنیا کې خلک شکنجه کوي.*

په دغه حدیث شریف کې یو پیغام دی، ترڅو خلک ډاډه شي چې الله ســـبحانه وتعالی دوی ته چانس ورکوي، خو هېروي یې نه. په دغه حدیث شریف کې راځي، هر څوک چې په دنیا کې خلکو ته عذاب ورکړي، الله سبحانه وتعالی به هغه ته په اخرت کې عذاب ورکوي او ان په دې دنیا کې یې د نورو لپاره د عبرت درس ګرځوي او په خپل عدل سره د مسلمانانو زړونه خوشحالوي.

باید خبر وو چې الله سبحانه وتعالی د خپلو بندګانو حق نه هېروي او دا د هغو کسانو لپاره پند او نصحت دی، چې اورېدنکی غوږ او لیدونکې ســـترګې لري. پر همدغه اســـاس څوک چې دغه کار کوي، نو د الهي عذاب تر نازلېدو او د توبې د دروازې تر تړل کېدو وړاندې باید له دغه کار څخه لاس واخلي او توبه وکړي؛ ځکه دغه کار د الله سبحانه وتعالی د عذاب لامل کېږي. همدارنګه څوک چې شنکجه او په عذاب شوي، هغوی دې ډاډمن وي چې الله سبحانه وتعالی به یې غچ اخلي.

له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې موږ د هغو کسانو په ډله کې راولي، چې خبرو ته غوږ ږدي او د ښو خبرو پیروي کوي. همدارنګه الله سبحانه وتعالی دې موږ د نورو له ظلم او شر څخه خوندي کړي او موږ ته دې نصرت راپه برخه کړي، ترڅو د ځمکې پر مخ ټول انســـانان د اســـلام د عدالت له نعمت څخه برخمن شي. آمین یا رب العالمین!

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**